ډاکتر عبدالرحمن زماني ۲۰۱۸/۰۸/۲۰

# نړۍ ته د افغانستان د خپلواکۍ په پېژندنه کې

## د محمد ولی خان دروازی مهمه ونډه

(دوهمه برخه)

**د محمد ولي خان د فعالیتونو د شنډولو او په انزوا کې د افغانستان د ساتلو د پاره د انګریزانو دسیسي:**

د خپلواکۍ د اعلان نه وروسته د اماني دولت ديپلوماتيک اقدام ، د انګريزانو د هغي امپراتورۍ پر وقار او حيثيت، چي په سيمه کي به يي لمر نه پريوت، دوهمه ستره ضربه وه. له همدې امله انګريزي استعمار د افغاني هيئت ناکامی ته ملا وتړله، او ډير کوښښ يي وکړ چي د نورو هيوادونو د مشرانو لخوا د دغه هيئت د هرکلي مخنيوۍ وکړي.

**د افغانستان او روسيي تر منځ د مناسباتو د ښه کيدو په مخنيوي کي د انګريزانو هلي ځلي او دسيسي:**

انګريزانو دوه ځل داسي دسيسي او توطئي جوړې کړې چي افغانستان ته د تګ په وخت د روسيي سفيران په نښنه او ووژني:

لومړۍ وار يي پر «براوين» د روسيي لومړني ټاکل شوي سفير، هغه وخت حمله وکړه چي په تاشکند کي د افغان قونسلګرۍ د تاسيس په وخت کې د محمد ولی خان سره د خدای پامانی نه وروسته د آمو د سيند نه تيريدو، او بيرته تاشکند ته په ستنيدو مجبوره شو.

دوهم وار پر «سوريتس» د براوين پر ځاي ناستي او د مرکزي ايشيا، کابل او سيمي د پاره تام الاختياره استاځی حمله او د هغي د تښتولو کوښښ وو. افغانستان ته د رسيدو په لاره د روس د دغه دوهم استازي د تښتولو ذکر د انګريزي استخباراتو په هغو پټو اسنادو کي شوي چي اوس د محرميت څخه وتلي دي . جنرال ماليسن د ۱۹۱۹ کال د اکتوبر د ۳۱ مي نيټي په خپل رپوټ کي د مشهد وليکل چي يو مخه ور ترکمن چي زما لخوا د سوريتس د ډلي د تښتولو د پاره د «پولاتان» په جنوب کي يوه ځاي ته استول شوي ؤ، پرته لدې چي کومي نتيجي ته ورسيږي، بيرته راستون شوي دئ . [1]

په مشهد کي د انګريزانو د استخباراتي مرکز د فعاليتونو د وسعت، او د سوريتس په حرکاتو د پوهيدو د هڅو يوه نمونه د جنرال ماليسن يو بل محرمانه رپوټ دئ . پدې رپوټ کي راغلي چي «په هرات کي مي د سوريتس د کاغذونو د باطله دانی محتوی تر لاسه کړه. که څه هم د هغي ګڼ شمير توکرۍ نشته، خو پاتي برخي يي د افغانانو سره د په زړه پورو خبرو د ځرنګوالي پوهيدو ته کفايت کوي. ځيني ټيل نويس رپوټونه د سوريتس لخوا اصلاح شوي دي . ځيني ټکي يي په لاندي ډول دي: «انګريزان په مشهد کي د افغانستان او بلشويکانو د مناسباتو د خرابولو په مقصد د درواغو خبرونه خپروي .» [2]

افغانستان ته د رسيدو په لاره د روسيي د ټولواکه استازي، سوريتس، د تښتولو د دسيسي شنډيدل، چي پاس ورته اشاره وشوه، انګريزان دومره غوسه کړل چي د بريتانوي هند په چارو کي وزير، هنری ډابس (Henry Dobbs) ، دافغانستان استازي ګل محمد خان خپل دفتر ته وغوښت او افغانستان ته د سوريتس په راتګ يي احتجاج وکړ. ډابس ته د افغانستان د استازي ځواب دا وو چي « امير اوس آزاده او خپلواکه دئ، او د خپلواکۍ په درلودو سره د هر باندني هيواد استازي ته اجازه ورکولای شي» [3]

د انګريزي استعمار استازي فکر نه کاوه چي د نړۍ هيوادونه به يوه کوچني هيواد ته د ارزښت په ورکولو او افغانستان سره د ديپلوماتيکو اړيکو په جوړولو، د هغه د ځواکمن هيواد د امپراتورۍ سپکاوي او توهين وکړای شي

---

[1] . د انګريزانو محرمانه استخباراتي اسناد، سياسی ټلګرام، ايم. دی ۲۴۵۸ ګڼه

[2] . د انګريزانو محرمانه استخباراتي اسناد، سياسی ټلګرام، ايم. دی ۲۲۶۲۶ ګڼه

[3] . هماغه ځای ۱۰۹ مخ .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيز بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

**پر ایټالیا د انګریزانو فشار:**

ایټالیا د هغو لومړنیو هیوادونو په ډله کې وه چې د افغانستان سره یې تجارتي تړون (قرارداد) لاسلیک کړ، او باید یو ایټالوي هیئت د ۱۹۱۹ کال د جولای په میاشت کې د کابل په لورې حرکت کړې وای. انګریزانو د ایټالیا پر دولت فشار راوړ، خو پر دوي دغه فشار پرته لدې چې سفر وځنډوي، کومه زیاته نتیجه ورنکړه . محمد ولی خان دروازی د ۱۹۲۱ کال په مې کې د ایټالیا پایتخت روم ته ورسید او د دوهم ځل لپاره یې د ملګرتوب وعده او تړون لاسلیک کړ.

**د فرانسي سره د مناسباتو د تأسیس د مخنیوي هڅه:**

د فرانسي د بهرنیو چارو وزیر په پاریس کې د محمد ولی خان دروازی اوافغاني هیئت هرکلي وکړ او د فرانسي جمهور رئیس ورسره وکتل . خو په پاریس کې د انګریزانو سفیر فرانسویانو ته وویل چې «که څه هم افغانستان په ظاهره خپله خپلواکي لاس ته راوړې ده، مونږ لا تر اوسه دا هیواد د خپل نفوذ سیمه ګڼو او هیله لرو چې ډېر ژر ورسره نژدې مناسبات ولرو .

**د امریکي د متحده ایالاتو سره د ډپلوماتیکو مناسباتو د ټینګولو کوښښ:**

د محمد ولی خان هیئت د ۱۹۲۱ کال د جولای په دوهمه نیټه د امریکي په لور حرکت او نیویارک ته و رسید. هغه د جولای په ۱۱مه نیټه په نیویارک کې وویل چې د امریکي سره د ډپلوماتیکو مناسباتو د ټینګولو په مقصد راغلي او زیاته یې کړه چې پاچا امان الله خان په افغانستان کې د امریکي پانګه اچوني ته لیواله دئ .[4]
نیویارک تایمز د جولای په ۱۳ مه خبریالانو سره د محمد ولی خان د کتني د خبر په ورکولو سره ولیکل چې هغه چمتو دئ د افغانستان د شتمنو منابعو، په خاصه توګه قیمتي کانو په هکله سوداګرو ته معلومات ورکړي. محمد ولی خان وویل چې زه اروپايي هیوادونو او امریکي ته راغلي یم تر څو په رسمي ډول د افغانستان خپلواکي اعلان کړم، او دغو طاقتونو ته په تخت د نوي امیر د کښیناستلو او نوو پالیسیو خبر ورکړم .زه د ډیپلوماتیکو مناسباتو د جوړولو دپاره واشنګټن ته ځم.
محمد ولی خان مخکې لدې چې د ۱۹۲۱ کال دجولای په ۱۷مه نیټه د امریکي د بهرنیو چارو وزیر سره وګوري، مطبوعاتو ته وویل چې د کابل او واشنګټن تر منځ د مناسباتو جوړیدل به امریکایي سوداګرو ته په کابل کې د پانګې اچونې پراخه امکانات برابر کړي. هغه زیاته کړه چې د افغانستان د غالیو (قالینو) صنعت به په متحده ایالاتو کې ښه بازار لاس ته راوړي .
دا چې ولي افغاني هیئت د امریکي په متحده ایالاتوکي، سره لدې چې افغاني پلاوي د ۱۹۲۱م کال د جولای په ۲۶مه نیټه د جمهور رئیس هاردینګ ( Harding) سره وکتل، او دغه کتل په خپل ذات کې د غازي امان الله خان د دولت او افغانستان د خپلواکی د رسمیت پیژندلو حیثیت درلود، د ډیپلوماتیکو اړیکو په جوړولو بریالي نه شو، علت یې یوه ژوره انګریزي دسیسه وه، چې ذکر به یې دلته بې ګټې نه وي .
(نور بیا)

[4] . افغانســتان په نړیوال ســیاســت کې تر دوهمي نړیوالي جګړې پورې د افغان ا و متحده ایالاتو اړیکي ۲۲ مخ (په انګلیسی ژبه)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ